د متحده ایالاتود عدلیې وزارت
د مدني حقونو څانګه
د مهاجرینو او کارمندانو د حقونو برخه آی یی آر (IER)

# کارګران د لنډ مهاله (مؤقت) خوندي حالت (Temporary Protected Status, TPS) سره د خپل کار کولو حق خوندي کړئ

لنډ مهاله خوندي حالت (Temporary Protected Status, TPS) کارګرانو ته په متحده ایالاتو کې د پاتې کېدو لنډ مهاله حق ورکوي. که تاسې لنډ مهاله خوندي حالت (TPS) لرئ، تاسې د کار جواز (ترلاسه کولو)، چې د کار اجازه لیک (Employment Authorization Document, EAD) ورته هم ویل کیږي، لپاره وړ یاست. هغوی چې د وتلو ځنډ شوی پلي شوی حالت (Deferred Enforced Departure, DED) (چې د ولسمشر په اختیار ځیني خلکو ته په متحده ایالاتو کې د ټاکل شوي مودې لپاره د پاتې کېدو اجازه ورکوي) لري هم د کار کولو حق لري. لاندې ورکړل شوي ډېرې معلومات په دواړو DED او لنډ مهاله خوندي حالت TPS باندې پلي کیږي.

**ستاسې EAD ممکن د خپلې د ختمېدو نېټې څخه وروسته د اعتبار وړ وي.**
یو ځل چې تاسې د TPS EAD لپاره غوښتنه وکړئ او ترلاسه یې کړئ، دولت ممکن ستاسې د هېواد لپاره TPS وغځوي (تمدید کړي). دا پدې معنی چې تاسې د اوږدې مودې لپاره په متحده ایالاتو کې د پاتې کېدو اختیار لرئ. که دولت ستاسې د هېواد لپاره TPS وغځوي، دا به د غځونې (تمدید) په اړه معلومات په Federal Register (فدرالي راجستر) کې خپاره کړي. پدې کې به د TPS لپاره د بیا راجستر کېدو څرنګوالي او د کار کولو د دوام په موخه د یو نوي EAD لپاره د غوښتنې په اړه لارښوونې شاملې وي.

ستاسې TPS EAD ممکن په EAD باندې ورکړل شوې د ختمېدو نېټې څخه وروسته تمدید شي. ځینې وختونه، کله چې دولت د TPS تمدیدول اعلانوي نو هغه په اتوماتیک ډول د Federal Register له لارې TPS EADs تمدیدوي. د Federal Register خبرتیا به تاسې ته ووایي چې ایا ستاسې EAD په اتوماتیک ډول د ختمېدو یوه نوې نېټه لري تر څو تاسې وکولی شئ چې د نوي EAD لپاره د غوښتنې او انتظار په مهال خپل کار ته دوام ورکړئ. که د Federal Register خبرتیا په اتوماتیک ډول ستاسې EAD تمدید کړي، تاسې د کار کولو دوام لپاره د کوم بل سند ښودلو ته اړتیا نلرئ. د خپل هېواد لپاره د TPS او د Federal Register خبرتیا په اړه د معلوماتو لپاره د www.uscis.gov/tps څخه لیدنه وکړئ.

که دولت په اتوماتیک ډول د Federal Register د خبرتیا له لارې ستاسې EAD نه تمدیدوي ولې تاسې د خپل TPS EAD د نوي کولو لپاره غوښتنه کړې وي، تاسې ممکن پخپل EAD باندې ورکړل شوې د پای نېټې څخه وروسته هم د کار کولو وړ اوسئ، پداسې حال کې چې تاسې د خپل نوي EAD لپاره انتظار باسئ. د ستاسې د EAD د پای نېټې څخه تر 540 ورځو پورې، تاسې نشې کولی، د خپل کار د اجازې د ثبوت په ډول، خپل TPS (نه DED ولې) EAD د I-797C رسید خبرتیا، چې ښیي دولت ستاسې د EAD د نوي کولو غوښتنلیک ترلاسه کړی، سره یو ځای وړاندې کړئ.

ځینې TPS EADs ممکن د تمدید نورو ډولونو لپاره وړ وي. د اتوماتیک تمدید په اړه د نورو معلوماتو لپاره، دغه معلومات په Handbook for Employers M-274 (د ګمارونکو لپاره لاسي کتاب M-274) کې ولولئ. تاسې هم کولی شئ چې د نورو معلوماتو لپاره د کډوال او کارګر د حقوقو برخې (Immigrant and Employee Rights Section, IER) ته زنګ ووهئ.

**ستاسې EAD د EAD د تمدید مودې تر پای پورې د اعتبار وړ دی.**
که ستاسې EAD د Federal Register خبرتیا له لارې تمدید شوی وي، ستاسې EAD په Federal Register کې اعلان شوې د EAD د تمدید مودې تر پای پورې د اعتبار وړ دی. که ستاسې EAD د EAD د نوي کولو لپاره ستاسې د غوښتنلیک پر بنسټ تمدید شوی وي، تاسې په EAD ورکړل شوې د پای نېټې څخه تر 540 ورځو پورې د خپل EAD او I-797C رسید سره کار کولی شئ. که ستاسې ګمارونکی ستاسې اسناد نه قبلوي یا د اضافي اسنادو غوښتنه کوي، IER ته زنګ ووهئ او مونږ ممکن تاسې سره مرسته وکولی شو. د حقایقو پر بنسټ، کله چې یو ګمارونکی د اضافي اسنادو غوښتنه کوي پداسې حال کې چې اړتیا ورته نه وي نو ممکن د هغه قانون څخه سرغړونه کوي چې IER په 8 U.S.C. § 1324b(a)(6) کې پلي کړی.

**د EAD د تمدید مودې تر ختمیدو پورې، تاسې باید خپل ګمارونکي ته وښایاست چې تاسې اجازه لرئ کار کولو ته دوام ورکړئ.**
کله چې د EAD د تمدید موده پای ته ورسیږي، دغه EAD نور د اعتبار وړ نه وي. په دې وخت کې، ستاسې ګمارونکی اړتیا لري چې د Form I-9 لپاره یو سند وګوري چې ستاسې د کار کولو دوامداره اجازه ښیي. د دغې تمدید مودې تر پای پورې، تاسې باید یو نوی EAD ولرئ. تاسې ممکن خپل ګمارونکي ته دغه سند یا د Form I-9 Lists of Acceptable Documents (د Form I-9 د منل شوو اسنادو لېسټ) څخه د خپلې خوښې د List A یو سند یا د List C یو سند ښکاره کړئ.

---

**د کډوال او کارګر د حقوقو برخه** (Immigrant and Employee Rights Section, IER)
د کارګر هاټ لاین: 1-800-255-7688
زنګونه کیدی شي ناڅرګند (نامعلوم) وي، او د ژبې وړیا خدمتونه شتون لري.
www.justice.gov/ier | www.justice.gov/crt-espanol/ier
TTY 1-800-237-2515

**د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدمتونه** (U.S. Citizenship and Immigration Services, USCIS)
1-800-375-5283
www.uscis.gov/tps
TTY 1-800-767-1833